مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۴/۰۵/۰۶

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۲۸۵مه برخه

**په اخرت دې له رب غواړم**
**چې نه پښتو وي نه د خلکو پیغورونه**

**چې پرې مین یم هغه نسته**
**چې خوښ مې ندي اِشارې راته کوینه**

**لاړې د وخت سیلۍ تباه کړې**
**نه ته راتلی شې، نه دې زه لیدلی شمه**

د لنډیو د دې برخې لپاره دا نوې لنډۍ غوره شوې دي:

**اوس که اباد یم که برباد یم**
**تا ته به یاد یم چې په څه دې پرېښودمه**

**کمیس مې لنډ ونیسه مورې**
**وطن پردی دی، ترخې خولې رالګوینه**

**د صداقت سلام پرې نهکړم**
**زما پرزړه باندې یې لوبې کړې دینه**

**په ما دې کړې څه بلا ده**
**د ورځې ژاړم، د شپې نه راځي خوبونـه**

**بیا به ارمان راپسې وکړې**
**چې مې دې سقات روپو ته ونیسي لاسونه**

**په اخرت دې له رب غواړم**
**چې نه پښتو وي نه د خلکو پیغورونه**

**یوکال خو نه دی چې به تېرشي**
**زه له غمونو سره عمر تېرومه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**خدایه په داسې ملک دې ورک کړم**
**پر ما تیارۀ وي، پر یار زېړ ماذیګر وینه**

**په صبر، صبر دې بوډا کړم**
**په بیړه، بیړه به خدای درکړي عذابونه**

**بنارسۍ دې په سر نه شوه**
**هر چا ته خاندې، څوک دې نه واده کوینه**

**چي پرې مین یم هغه نسته**
**چي خوښ مې ندي اِشارې راته کوښه**

**لالیه میاشتي مې هېرېږي**
**په دیوال لیکې تیروم، هیرجنه شومه**

**په کتابونو کې څه نهشته**
**په ماتو زړونو کې پراته دې ډېر رازونه**

**مینه د دیګ، زړګي مې غوښې**
**اوښکې اوبه دي، بیلتون اورپسي کوینه**

**نښې دې ډېرې راسره دي**
**نښې دې څه کړم چې دې سترګې نه وینمه**

**خزانه مړ شې، زه دې مړ کړم**
**یار مې جدا شو، زه هم ژېړ ورژېدمه**

**د مني پاڼې غوندې ژېړ شوم**
**یار ځوانیمرګ شو، زه هم کښته ولوېدمه**

**راته دې وې پاستي پاخه کړه**
**وچو وړو نه مې جوړ کړي وو څو زړونه**

**لاړې د وخت سیلۍ تباه کړې**
**نه ته راتلی شې، نه دې زه لیدلی شمه**

**ستا به له ما نه ګیله کېږي**
**زما د کور پر خلکو نه رسي لاسونه**

که مو غوښتل چې د لیکوال نورې لیکنې له نظره تېرې کړئ، دا ځای کلیک کړئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ